# د انساني ژوند په اړه د قرآن کريم تصور

مبشر نذير
ترجمه مولوي محمد اکبر
کمپوز او ډيزاين: حسين احمد

# د انساني ژوند په اړه عام تصور



# ٣ د انساني ژوند په اړه د قرآن کريم تصور



# د انساني ژوند په اړه د قرآن کريم تصور

- يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنْبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ (5)
- ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَى وَأَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (6) وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ (7)
- وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُنِيرٍ (8) ثَانِيَ عِطْفِهِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ لَهُ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَنُذِيقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَذَابَ الْحَرِيقِ (9) ذَلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ (10) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَى حَرْفٍ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ انْقَلَبَ عَلَى وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ذَلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ (11) يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا لَا يَنْفَعُهُ ذَلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ (12) يَدْعُو لَمَنْ ضَرُّهُ أَقْرَبُ مِنْ نَفْعِهِ لَبِئْسَ الْمَوْلَى وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ (13) إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ (14) سورة الحج آيت: ۵-۱۴

# د انساني ژوند په اړه د قرآن کريم تصور

لومړی مرحله

اې خلکو! که د بیا ژوندون په اړه په شك کې يئ، نو موږ خو له خاورې راپيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا له علقې، بيا له ژوول شوې يوې ټوټې غوښې چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، ترڅو تاسو ته وښيو او څه چې وغواړو تر يوې نېټې ئې په رحم کې ځای پر ځای کوو، بيا مو د ماشوم په څېر راباسو، بيا (همداسي ستاسو پالنه کوو) تر څو خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو څخه ځيني ومري او ځيني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمکه ګورې چې وچه کلکه ده، خو کله چې اوبه پرې نازل کړو، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي. دا له دې کبله چې الله په خپله حق دئ، او دا چې هغه مړي راژوندي کوي، او دا چې هغه پر هر څه ښه قادر دئ، او دا چې (د قيامت) هغه نېټه حتماً راتلونکې ده، هيڅ شك په کې نشته، او دا چې الله به هغه راپاڅوي چې په قبرونو کې دي.

# ۶ د انساني ژوند په اړه د قرآن کريم تصور

د انساني ژوند دوهمه او دريمه مرحله

i. او له خلکو ځيني هغه دي چي د الله په اړه له کومي پوهي، هدايت او روڼ کتاب پرته مجادله کوي، په داسي حال کي چي د خپل اړخ اړوونکی وي، ترڅو د الله له لاري (خلك) تېرباسي، هغه ته په دنيا کي سپکاوی دئ او د قيامت په ورځ به د اور عذاب وروڅکو، دا د همغه څه له کبله چي ستا لاسونو وړاندي لېږلي او دا ځکه چي الله پر بندګانو ظلم کوونکی نه دئ.

ii. او له خلکو ځيني داسي دي چي په يوې ژی کي د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېګڼه وروړسېږي په هغي ډاډه شي او که د آزموينې (کومه ستونزه) ورورسېږی خپل مخ اړوي، دنيا او آخرت ئې تاواني شو او دا ځرګنده تباهي ده. له الله پرته هغه چا ته دعاء کوي چي نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه وررسولی شي، همدا ژوره لاروركتيا ده، هغه چا ته دعاء کوي چي تاوان ئې تر ګټي ډېر نږدې دئ، څومره بد مولی او څومره بد ملګری.

iii. يقيناً چي الله هغه وګړي چي ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي په داسي جنتونو کي ننباسي چي تري لاندي ويالې بهېږي، يقيناً چي الله همغه څه کوي چي وئې غواړي.

# د الله جل جلاله د پيدا كولو منصوبه

- الله جل جلاله په ميلياردونو مخلوقات پيدا كړي دي







# د الله ج د پيداينت منصوبه



- د الله ج د ټولو مخلوقاتو په مخکې يو چيلينج ايښی دی او دوی ته يې د سمې لارې او غلطې لارې په غوره کولو کې ازادي ور کړې ده.
- که چيرې په دې چيلينج کې د سمې لارې غوره والی وکړې نو هغه ته د انعام په ډول هميشنې ژوند ور په برخه کوې او د غلطې لارې په غوره کولو باندې سزا ورکوې.
- د چيلينج قبلوونکی ته د سمې او ناسمې لارې غوره کولو پوره آزادي ورکول سوې ده.



# د الله جل جلاله تخليقي منصوبه



- انسان دا ننګونه قبوله کړه په داسي حال کي چي نورو مخلوقاتو د دي څخه معذرت و غوښتی .
- الله تعالی د یو لنډ وخت لپاره پر نورو مخلوقاتو حکومت ورکړ



# لومړی مرحله

ازموینه؟

امتحان؟

# پيدائښت

- ✓ مورې ته د خاوري څخه جوړ کړي.
- ✓ بيا مو د نطفي څخه.
- ✓ بيا مو د يوې ټوټې ويني څخه.
- ✓ بيا د يوې ټوټې ويني څخه چي شکل لرونکي او شکل نه لرونکي وي.
- ✓ (دا ځکه مونږ تاته وايو) چي تا ته حقيقت ښکاره سي.
- ✓ مونږ چي کومي نطفي ته وغواړو تر يو خاص وخت پوري يې د مور په نس کي ټينګوو.
- ✓ او بيا ستا څخه انسان جوړ کړو او د باندي مو راوباسو.



# د عمر پوخوالی




په اره د قرآن کريم تصور



# مرگ

إِلَيۡنَا ثُمَّ ۖ ٱلۡمَوۡتِ ذَآئِقَةُ نَفۡسٖ كُلُّ (سورة العنكبوت ۵۷ آيات)

**ترجمه: هر ژوی به د مرگ څکه کوی او تاسي به آخرى موږ ته راځئ مرگ زموږ د ژوند خاتمه نه ده دا فقط د ژوند دوهمی مرحلې د داخلیدو دروازه ده.**



## دوهمه مرحله

# حساب و کتاب

# پاملرنه

- ✓ د آخرت کارونه په الفاظو او انځورونو باندي بیانول ناممکن دي ځکه هغه موږ هغه کارونه لیدلي نه دي.
- ✓ فقط د دي خبری د پوهیدلو له پاره هغه کارونه د دې دنیا په الفاظو او انځورونو په صورت کي بیانیږي د دې هدف فقط او فقط په خبره ځان پوه کول دي چي د دنیا نعمتونه داسی دي نو د آخرت به څنګه حساب وي د دې په حقیقت باندي فقط الله ج خبر دي.

# د برزخ (قبر ) نړۍ

- ✓برزخ ته په عمومي ډول قبر ویل کیږي د دې څخه د مرگ څه بیا تر قیامت ورځې پورې وخت مراد دی.
- ✓د مرگ وروسته یو ابتدائي درجې حساب و کتاب کیږي.
- ✓د یو لړ خلگو جزا او سزا د مرگ سره سم شروع کیږي.
- ✓ډیرې خلگ به تر قیامت پورې بیده کړل سي د هغوی تفصیلي حساب و کتاب به په آخرت وسي.



# د برزخ عالم

ډېر نیک خلگ

د منځني کچي خلک

ډېر سرغړوونکی خلک

د مثال په ډول الله تعالی پیغمبر او د هغوی صحابه ته د مرگ وروسته د هغوی د نیکو اعمالو بدله ورکوی .
هغو له خدایه ویروونکو ته چي کله پرښتي د سپیڅلتیا په حالت کي د هغو ساه گاني اخلي نو وایي سلام دي وي پر تاسو باندي د خپلو عملونو په بدل کي ځئ جنت ته.

د مثال په ډول فرعون او د هغه ملگرو ته د هغوی د اعمالو سزا ور کول کیږي کاښکي ته هغه حالت لیدلی شو چي کله پر ملایکو هغه وژل شویو کافرانو ساه اخیستلی د هغوی پر مخونو او شټونو یي گوزارونه کول او ویل یي دا ده د اوس د سوځېدو سزاگاني دا هغه جزا ده چي د هغې وسایل ستاسي خپلو لاسونو د مخه شمار کړي ول که نه نو الله ج پر خپلو بندگانو باندي ظلم کوونکی نه دی
(سورة الانفال ۵۱-۵۰ ایات)

# د دنیا پای



او په هغه ورځ به شپیلۍ پو کړل سي او هغه ټول چي پ آسمانونو او ځمکه کي دي مړه به راغورځیږي پرته له هغو څخه چي الله تعالی یې ژوند غواړی بیا به یوه بله شپیلۍ پو کړل سي او په ناڅاپي ډول به ټوله راپاڅیږي گوری به یې(سورة الزمر ٦٨).





کله چي راتاو کړی شي دا لمر او کله چي تیاره شي دغه ستوري.(سورة التکویر ١ــ٢ آیات)

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو یا عکسونو باندی بیانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي لیدلي فقط د خبری د پوهیدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنیا په عکسونو او آلفاظو بیانیږي ددي هدف فقط او فقط پوهیدل دي او بس حقیقي علم د الله ج سره دي.

# ادامه.....





1- هغه وخت چي دا آسمان چاود چاود شي. 2- او کله چي دا ستوري ټول تيت تيت شي. 3- او کله چي سيندونه روان کړی شي. 4- او کله چي قبرونه وسپړل شي (سورة الانفطار ۱ـ۴ايات)





پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو يا عکسونو باندی بيانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي ليدلي فقط د خبری د پوهيدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنيا په عکسونو او آلفاظو بيانيږي ددي هدف فقط او فقط پوهيدل دي او بس حقيقي علم د الله ج سره دي.

# د حشر ورځ





هغه ورځ چي آسمان به داسي راونغاړو لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل، لکه چي لومړی پيدايښت مو پيل کړ بيا به ئې اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه يوه ژمنه ده، يقيناً چي موږ ئې کوونکي يو(سورة الانبياء آيت: ۱۰۴)

بيا به بل ځل په کي پو شي نو ناڅاپه به دوی په داسي حال کي ودرېدلي وي چي انتظار به کوي(سورة الزمر آيت: ٦٨)

وايي به: وای افسوس پر موږ؛ چا له خپلو خوب ځايونو راپاڅولو؟ دا همغه څه دي چي رحمن رب ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو(سورة يس ايت: ٥٢)

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو يا عکسونو باندی بيانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي ليدلي فقط د خبری د پوهيدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنيا په عکسونو او آلفاظو بيانيږي ددي هدف فقط او فقط پوهيدل دي او بس حقيقي علم د الله ج سره دي.

# ادامه.......



17- او څه شي ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. 18- بیا څه شي ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. 19- آ ورځ چې څوك به نه لري بل چا ته څه په واك کي او (واك به د هر) کار وي په دې ورځ مختص الله ته(سورة الانفطار آیت: ۱۹ــ۱۷)

او د الله په اړه ئې د ده له قدر سره وړ قدرونه ونه کړه، په داسي حال کي چي د قیامت په ورځ به ټوله زمکه د ده په موټ کي وي او آسمانونه به د ده په ښي لاس کي راتاو کړی شوي وي، ده ته سپېڅلتیا ده او له هغه څه لوړتیا چي دوی ئې (ورسره) شریکوي(سورة الزمر آیت: ٦٧)

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو یا عکسونو باندی بیانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي لیدلي فقط د خبری د پوهیدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنیا په عکسونو او آلفاظو بیانیږي ددي هدف فقط او فقط پوهیدل دي او بس حقیقي علم د الله ج سره دي.

# ادامه.......



که تاسي د منلو څخه انکار وکړی نو په هغه ورځ به څنگه وژغورل سي چي ماشومان به سپين ږيري کړی او دهغې د سختي څخه به اسمان چاويدونکی وي؟ دالله جل جلاله وعده خو پوره کيدونکی ده. سورة المزمل آيت: ۱۸---۱۷.

33- نو کله چي راورسي هماغه تونده چيغه. 34- هغه ورځ چي هرڅوك تښتي له خپل وروره، 35- او له موره او خپل پلاره، 36- او له خپلي ښځې، خپل اولاده، 37- په دې ورځې به هر يوه د دوی ته داسي مشغولتيا وي چي په خپله به ئې بس وي. 38- په دې ورځې به ځيني څېرې سپيني او رڼې وي. 39- مُسکېدونکې، ښاد، خوشحاله. 40- او ځيني څېرې داسي چي دې ورځ کي به پراته وي پرې گردونه. 41- توروالي او تيارو به وي پوښلې. 42- همدا دي آ بدکاره کافران. سورة العبس آيت:۳۴---۴۲.

# ادامه....

لاربښوونکی، مشر، زعیم




پیرو، شاګرد، مرید، تابع

کله چې هغه سزا ورکړي په هغه وخت کښې به حالت داسې وي چې هماغه مشران او رهبران چې په دنیا کښې یې پیروي کیدله ، له خپلو پیروانو څخه به بیزاري څرګنده کړي، خو پر عذاب به اخته شي او د هغوې د ټولو سببو نو او وسایلو لړۀ به پریکړه شیاو هغه خلك چې په دنیا کښې یې د هغو پیروي کوله و به وایي چې کاشکې یو ځل بېرته دنیا ته زمونږ تګ شوی وای؛ نو څنګه چې نن دوی له مونږه بیزاري څرګندوي ، نو مونږ به هم له دوي نه بیزاري ښکاره کړي وای په دغه راز به الله ددې خلکو هغه عملونه چې دوی یې په دینا کښې کوي داسې ددوی مخې ته کیږدي چې دوی به د افسوس او پښېمانتیا لاسونه ومروړي خوله اور نه د وتلو هیڅ لار به پیدا نه کړي. سورة البقرة آیت: ۱٦۷-۱٦٦.

نو په غوره چارو کښې یو له بل نه دوړاندې کېدو هڅه وکړئ. په پای کښې ستاسې ټولو د خدای لوري ته ورګرځېدل دي، بیا به هغه تاسې ته اصلي حقیقت چې تاسې په کښې اختلاف کوئ دروښیي.سورةالمائدة آیت: ۴۸.

# حساب وکتاب

او د قیامت د ورځي د انصاف تلي به کېږدو نو پر هيچا به هيڅ ظلم نه کېږي، او که د سپیلني د داني په مقدار څه (عمل) وي نو رابه ئې وړو. او موږ د محاسبه کوونکو په توګه کافي يو.



او له هغي ورځي ووېرېږئ چي نه يو کس د بل کس مجازات په غاړه اخيستی شي، نه د ده په اړه کوم شفاعت قبلېدی شي، نه څه بدله ترې اخيستل کېدی شي او نه ئې مرسته کېدی شي.

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو يا عکسونو باندی بيانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي ليدلي فقط د خبری د پوهيدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنيا په عکسونو او آلفاظو بيانيږي ددي هدف فقط او فقط پوهيدل دي او بس حقيقي علم د الله ج سره دي.

# حساب وکتاب

او زمکه به د خپل رب په نور سره ځلانده شي، کتاب به کېښودی شي، پیغمبران او شاهدان به راوستی شي او د دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي؛ په داسي حال کي چي پر دوی به ظلم نه کېږي. او هر چا ته به د هغو عملونو بشپړه بدله ورکړی شي چي کړي ئې دي په داسي حال کي چي دی په هغه څه ښه پوه دئ چي دوی ئې کوي(سورة الانبیا ایت: ۴۷)

او له هغي ورځي ووېرېږئ چي نه یو کس د بل کس مجازات په غاړه اخیستی شي، نه د ده په اړه کوم شفاعت قبلېدی شي، نه څه بدله ترې اخیستل کېدی شي او نه ئې مرسته کېدی شي(سورة البقرة آیت: ۴۸)

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو یا عکسونو باندی بیانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي لیدلي فقط د خبری د پوهیدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنیا په عکسونو او آلفاظو بیانیږي ددي هدف فقط او فقط پوهیدل دي او بس حقیقي علم د الله ج سره دي.

# دریمه مرحله

جزا او سزا

# د حساباو کتاب وروسته د انسانانو ډلی

وراندی ← الله ته ډېر نژدې

د راسته لاس خاوندان ← د جنت مستحق هغوی ته به راشد لاس اعمالنامه ورکول سي

د چپه لاس خاوندان ← سزا خوړونکی هغوی ته په اعمالنامه په چپه لاس ورکول سي

تاسي به په هغه وخت کي په وخت کي په درو ډلو وويشل سي(دوي ډلي جنتيان او يوه .له دوزخيان)

- ✓ د راسته لاس خاوندان د ښې لاس خاوندان څومره ښه دي.
- ✓ او د چپه لاس خاوندان د چپه خاوندان څومره بد او سپک دي.
- ✓ او وړاندي خو بيا وړاندي دي هغوی خو مقرب خلگ دي د نعمتونو ډکو جنتونو کي به اوسي.

# د بدله اخيستونکو لپاره بېلابېلي درجې

وړاندي کوونکی

راسته لاس والا

هغه کسان چي نيکي = بدي

مجرم

ډير سرکښه مجرم

همېشه به په جنت کي وي

دوی د الله تعالی په رحمت او پيغمبرانو په شفاعت سره نجات مومي

د يو څه سزا ور کولو ورروسته دوهم نجات مومي

تل د سزا مستحق

# شفاعت (سپارښتنه)

څه چې د هغو په وړاندې دي هغه هم هغه (الله) ته معلوم دي او څه چې له هغو نه پټ دي په هغو باندې هم هغه پوه دی هغوی د هېچا سپارښ نکوي پرته له هغه چانه چې د هغه په حق کښې د سپارښ په اوریدلو باندې الله راضي وي،اوهغوی د هغه له ویرې نه لړزیدونکي دي(سورة الانبیا آیت: ۲۸)

په هغه ورځ به شفاعت په درد نه خوري، مگر دا چې چاته رحمن د هغه اجازه ورکړي او دهغه خبره اوریدل خوښ کړي. سورة طه آیت:۱۰۹

د شفاعت دروازه خلاصوونکي به حضرت محمد ص وي(مسلم)

د شفاعت اجازه ورکولو هدف دي چې په انسان نسل په مخ کي د الله ج د نیکو بندگانو شان او عظلت ښکاره سي.

دوی وائي ښه نو دغه اخطار به کله پوره کېږي که تاسې ریښتوني یاست. (سورة الانبیا آیت:۳۸)

# د دوزخ ژوند

په حقیقت کښې جهنم  یو څارنځی دی د سرکشانو هستوګنځي دي چه په هغه کښې به دوي په مودو پراته وي . په هغه کښې به هېڅ د کوم یخ او څښلو وړشی خوند هغوي ونه څکي څه چې  مومي هغه به یوازې د زخمونو وینې زوې وي( دهغو دعملونو ) پوره او بشپړه بدله. سورة النبأ آیت: ۲۱--۲٦

هغوې د هېڅ حساب هیله نه لرله او زموږ ایتونه هغوې بیخي دروغ  ګڼلي وو په داسې حال کښې چه موږ  هرشی په شمار لیکل اوس  خوند وڅکئ موږ به تاسې ته له عذابه پرته هیڅ بل شی درزیات نه کړو. سورة النبأ آیت: ۲۷---۳۰.

# ادامه.....





دپرهيز گارانو لپاره چې دکوم جنت وعده شويده دهغه شان خودا دی چې په هغه کښې به وياڵې بهيږي د صافو اوبو او وياڵې به بهيدونکې وي د داسې شيد وچې په خوند کښې به يې هيڅ توپيرنه وي راغلی ، وياڵې به بهيدونکې وي د داسې شرابو چې د څښونکو لپاره به لذت ښوونکي وي ، ويالی به بهيدونکي وي د صافو ږنو شاتو ، په هغه کښې به دهغو لپاره هر راز ميو ې وي او دهغو د رب لخوا بخشش ( ايا هغه څوك چې دهغه به باب دغه جنت رسېدونکی دی ) دهغو خلکو په څير کيدای شي چې په دوزخ کښې به تل اوسيدونکی وي .او په هغو باندې به داسې ګرمې اوبه څښلی شي چې دهغو کولمې به غوڅې غوڅې کړي سورة محمد آيت:۱۵.

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو يا عکسونو باندی بيانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي ليدلي فقط د خبرې د پوهيدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنيا په عکسونو او آلفاظو بيانيږي ددي هدف فقط او فقط پوهيدل دي او بس حقيقي علم د الله ج سره دي.

# ادامه.......

هېڅکله نه، ارومرو به په هغه ورځ دوي د خپل رب له ليدو څخه بې برخې وي (سورة المطنفين آيت: ۱۵)



ډير ژر به زه هغه دوزخ ته ننباسم او ته څه پوهېږې چې څه دى هغه دوزخ نه يې پرېږدي نه يې خوشی کوی پوستکي الپيوونکي. سورة المدثر آيت: ۲٦--۲۹

د انساني ژوند په اړه د قرآن کريم تصور

پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو يا عکسونو باندی بيانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي ليدلي فقط د خبری د پوهيدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنيا په عکسونو او آلفاظو بيانيږي ددې هدف فقط او فقط پوهيدل دي او بس حقيقي علم د الله ج سره دي.

# د جنت ژوند

له موڼا سره خوله خپل رب څخه دهغې ورځې د عذاب وېره ده چې د سخت
کړاوء أېره اوإده ورځ به وی نو الله تعاليٰ به دوې د هغې ورځې له شر څخه
وژغوری او دوې ته به ترتازگی او خوشحالی ورکړی او دهغو دصبر په بدل
کښې به هغوته جنت او ورېښمین کالی ورکړی هلته به هغوي پرلو ومسندونو
باندې تکیه وهلی ناست وی نه به يې د دوبی گرمی په تکلیف کړی او نه د
ژمی ساړه د جنت څانگې به پرې راټیټې شوې سیوري کوونکې وي او دهغه
میوې به هروخت دهغوې په وس کښې وی ( چې څنگه غواړی ويې شکوی ، )
دهغو مخې ته به دسپینوزرولو ښی او دښیښو گیلاسونه گرځول کېږی ښیښې هم
هغه چې د سپینو زرو په أول به وی او هغه به ( دجنت منتظمینو ) په سمه
اندازه برابر أك کړی و
( سورة الدهر (الانسان) آیات: ١٦ــ-١١)

او ای پیغمبره! کومو خلکو چې پردې کتاب ایمان راوْړاو(له هغه سره سم )
خپل عملونه يې اصلاح کړل هغو ته زېری ورکړه چې د هغو له پاره داسې باغونه
دي ، چې ترې لاندې به ویالې بهېږي، د هغو باغونو میوې به په شکل کښې
ددنیا میوو ته ورته وي، کله چې کومه میوه د خوراك له پاره هغو ته ورکړه شي
، نو هغوی به ووایي چې همدغسې میوه له دې نه مخکښې په دنیا کښې موڼا ته
راکړه شوې وه ، د هغو له پاره به هلته أېرې سپېڅلې ښځې وي ، او هغوي به
هلته د تل له پاره اوسېږي(سورة البقرة آیت: ٢٥)



پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو یا
عکسونو باندی بیانول ناممکن دي ځکه
هغه کارونه موږ نه دي لیدلي فقط د
خبری د پوهیدو لپاره دلته هغه کارونه
ددې دنیا په عکسونو او آلفاظو بیانیږي
ددي هدف فقط او فقط پوهیدل دي
او بس حقیقي علم د الله ج سره دي.

# ادامه.........

دهغو مخې ته به دسپینوزرولو ښی او دښیښو ګیلاسونه
ګرځول کېږی ښیښې هم هغه چې د سپینو زرو په أول به
وی او هغه به ( دجنت منتظمینو ) په سمه اندازه برابر أك
کړی وی په هغوبه هلته دشرابو داسې جامونه وڅښل شی
چې سوناً به پکښې ګاً شوي وی
دابه دجنت یوه چینه وی چې سلسبیل ورته ویل کېږي
(سورة الانسان(الدهر) آیات: ۱۸ـــ۱۵)



پاملرنه: د آخرت کارونه په آلفاظو یا عکسونو باندی بیانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه
موږ نه دي لیدلي فقط د خبری د پوهیدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنیا په عکسونو او
آلفاظو بیانیږي ددي هدف فقط او فقط پوهیدل دي او بس حقیقي علم د الله ج سره دي.

تصور

# ادامه.......





لږ فکر وکي چي زموږ د
دنیا څومره ښایسته ده نو
که د دې دنیا ښایست دا
عالم وي نو د جنت
ښایست به څه حال وي.



**پاملرنه:** د آخرت کارونه په آلفاظو یا عکسونو باندی بیانول ناممکن دي ځکه هغه کارونه موږ نه دي لیدلي فقط د خبرى د پوهیدو لپاره دلته هغه کارونه ددې دنیا په عکسونو او آلفاظو بیانیږي ددي هدف فقط او فقط پوهیدل دي او بس حقیقي علم د الله ج سره دي.

# آيا د انسانی ژوند په اړه د قرانکریم انځور پر خپل ځان معقول دي؟؟؟

د خپل ځان څخه یو څو پوښتنی وکړئ!!!

- آيا پوهېږی چي یو څه کارونه مو بد اوښه دي؟
- که چيري جواب مو هو وي نو پر خپل انصاف او عدل باندي يقين ولري؟
- که چيري جواب مو هو وي نو ایا پدې دنیا کی ښه کارو بدله او د بدو کارو بدله سزا وي؟
- که چيري جواب مو هو وي نو آيا پدې دنيا کي پر ښه کار باندي د هغه پوره بدله ورکول کيږي او پر بدو کارو باندي سز ورکول کيږي؟
- که چيري جواب مو يا وي نو آيا دې دنيا ته کامل يا پوره ويل کيدلای سي؟
- که چيري داسي نه وي نو بيا زموږ عقل دا راته وايي چي یوه داسي دنيا په کار ده چيري چي د بدو او ښو کارو پوره انعام او سزا ور کول کيږي
- قرآن موږ ته وايي چي د دې دنيا وروسته یوه بله دنيا سته هلته به په پوره عدل او انصاف سره د ښو او بدو پوره بدله ورکول سي.

# د انساني ژوند په اړه د قرانکريم د انځورگرۍ په رڼا کي راتلونکي شواهد

فقط عقل دليل نه دي بلکي ډير د سترگو ليدلی شواهد سته چي دا خبره ثابتول چي قيامت به راځي دا شواهد تاسو هم ليدلی سي اندازه وکي چي دا کوم ځای دي.











که چيري د دې تفصيلي معلوماتو سره مينه لري نو د الله تعای د جزا او سزا پريزينتېشن و گوري

# په دې امتحان کي موږ د کامیابۍ لپاره څه کوو؟؟

- دایمان په اوو(۷) ارکانو چي په (آمنت بالله) کي ذکر سوي دي باید ایمان او باور ولرو.
- احلاقیات او اسماني شریعت سره خپل تعلق ټینګ کي.
- د الله ج پیغام تر نورو ورسوي.
- که چیري کله غلطی در سره وسي ددې پر ځای چي هغه ودریږی د الله ج څخه معافي و غواړي الله ته سر ټیټ کړی

## ځکه

په زمانه قسم انسان په حقیقت کښې په لوي تاوان کښې دی پرته له هغو خلکو چې ایمان یې راوړی اوښه عملونه کوی او یوبل ته د حق نصیحت او دصبر ښودنه کوی(سورة العصر آیات:۳-ـــ۱)

# جزاک الله خیرا

(الله ج دي د ښ بدله درکړي)

الله مو ساتونکي او مرستندويه سه